آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۸/۲۹

# میلمانه

زما او ستا د مخه بنې په ورځې

کله چې لاړلې، پنا شولې له مخې نه مې

زما د سترګو حویلۍ لمده شوه

زړه مې نرۍ، نرۍ خوړیده در پسې

زیړو ګلانو ته مې وکتلې

بیا مې ستا لاره،

همغه لاره چې پنا وې پرې ته

له سترګو تیره کړله

خو ته مې ونه لیدې

بیا مې د سترګو بڼ کې

خو میلمانه را پیښ شول

ما چې د سترګو کینکودلو سره

نویو راغلو میلمنو ته هرکلی ویلو

نو مې د زړه او سترګو بڼ کې ته هم ولیدلې

ما مخامخ ستا د دوو سترګو ننداره کوله

ما مخامخ ولیدل

چې ستا د سترګو د بڼ

د دروازې زرین ځنځیر

خو میلمانه شرنګوې

۲۰۱۴/۰۶/۱۴

هیدرسلیف، ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ